مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال

۲۰۲۳/۰۹/۰۱

# دُعا

خدایه ! ملا می د محراب په عظمت پوه کړی
خدایه ! په درد یی د وطن او د ملت پوه کړی

خدایه ! خبر یی په مفهوم کړی د قرآن د ژبی
خدایه ! په ځای یی د نفرت په محبت پوه کړی

خدایه ! اګاه یی کړی د ظلم په انجام باندی
خدایه ! له هرڅه یی اول په انسانیت پوه کړی

خدایه ! په برخه یی کړی پوهه دانصاف د قانون
خدایه ! قاضي د مُحکمي په عدالت پوه کړی

خدایه ! د وینو تویولو قدرت واخلی ورنه
خدایه ! په لار یی د دوزخ او د جنت پوه کړی

خدایه ! د کلی کلیوالو ته بلا یی نه کړی
خدایه ! یو څه یی د سواد په برکت پوه کړی.

هیله:
یارانو پورته کړئ لاسونه او آمین ووایی
که دا دعا می سمه نه وی راته سپین ووایی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ